# د لمريني لوڼي




کاظم حميدي رسا

ژباړونکی: فضل‌رباني قاضي‌زی


ACKU

د لمريني لوڼي

کاظم حميدي رسا


پرله‌پسې شمېره: ۳۹۹


# Daughters of Sun


Kazim Hamidi Rasa


لمرينه ترور ځمکې ته ډېره اندېښمنه ده. وېرېږي چې ځمکه بیا کم‌رنګه او تته نه‌شي. او د ښکلو لوڼو ټول نوښتونه او زحمتونه يې لاهو نه‌شي. طبيعت هم خواشينی دی. کله چې د ځنګله ارواه خواشينې وي، معنا يې دا ده چې ځمکه له خطر سره مخ ده. د ځنګله ارواه له غرونو، سيندونو او ځناورو سره خوشحاله ده، خو کله چې دوی ته زيان اوړي، د ځنګله ارواه هم خواشينې کېږي. موږ بايد له طبيعت او د لمرينې ترور له لوڼو سره ډېره مينه ولرو. اوبه بې‌ځايه مصرف نه‌کړو، هېڅ‌کله له پلاستيکونو څخه ګټه وانه‌خلو، مرغان او حيوانات ونه‌ځوروو، څو د لمرينې ترور لوڼې د تل له‌پاره زموږ سياره توده، رنګارنګ او ښکلې وساتي.


توانا

برنامه‌ای برای نشر کتاب، ترویج فرهنگ کتاب‌خوانی و توسعه‌ی کتابخانه‌ها در افغانستان

ACKU Box Library Extension

Est. 1996

ISBN 978-9936-646-13-1



# د لمرينې لونې

**ليکوال: کاظم حميدي رسا**

**ژباړونکی: فضل‌رباني قاضي‌زی**

خپروونکی: په کابل پوهنتون کې د افغانستان معلوماتو مرکز (ACKU)

لومړی چاپ: ۱۳۹۷ل. (۲۰۱۸م) کابل – افغانستان

# د لمريني لوښي


ليکوال: کاظم‌حميدي رسا

ژباړونکی: فضل‌رباني قاضي‌زی

سمون: لعل‌اقا شيرين

د پښتې طرحه او ترتيب: ر.رضايي

رسامي او انځورګري: حسام‌الدين رستاقي

د پاڼو جوړونه: مجتبي سخي‌زاده

پرله‌پسې شمېره: ۳۹۹

کچه: ۲۰× ۲۰سانتي‌متره

چاپ‌شمېر: ۵۰۰ټوکه

خپروونکی: په کابل پوهنتون کې د افغانستان معلوماتو مرکز (ACKU)

لومړی چاپ: ۱۳۹۷ل. (۲۰۱۸م) کابل – افغانستان

برېښناليک(ايميل): info@acku.edu.af

ويب‌پاڼه: www.acku.edu.af

شابک: ISBN 978-9936-646-13-1/۹۷۸-۹۹۳۶-٦٤٦-۱۳-۱





**د ليکوالو شورا تر نظر:**

عبدالوحيد وفا، حضرت وهريز، سيامک هروي، فيض‌محمد ناياب، عبدالمجيب خلوتګر، حسين حيدربيګي، پوهاند محمد بشيردوديال، ډاکټر سيد محي‌الدين هاشمي، پوهندوی احمدضيا رفعت او امنه مايار.



**د چاپ حق له خپروونکي سره خوندي دی.**

- د کتاب له مطالبو څخه ګټه اخستل يوازې د ماخذ په يادولو سره مجاز دي.
- دا کتاب د «امريکا متحده ايالاتو پرمختيايي اداري» (USAID) په مالي مرسته خپور شوی دی.
- ليکوال د کتاب منځپانګې مسوول دی. منځپانګه په الزامي توګه د ACKU نظرياتو ځرګندويي نه‌کوي.

## له ماشومانو سره خبره

### ګلالیو ماشومانو سلام!

د دې لهپاره چې په راتلونکې کې لوی انسانان شئ، ستاسو لهپاره یو پروګرام لرو. ښايي له دې پروګرام سره اشنا وئ. د دې پروګرام نوم «ځواکمن» دی. په انګلیسي کې ورته ABLE وايي. تاسو حتماً پوهېږئ چې ولې مو دا نوم پر دې پروګرام ایښی دی. ګومان مو سم دی: ځواکمن هغه چاته ویل کېږي چې وپوهېږي څه ترسره کوي، او څنګه یې باید ترسره کړي. یعنې د هر کار د ترسره کولو لهپاره په خپل ذهن کې بېلابېلې لارې مرور کوي او تر ټولو غوره لار او وسایل ټاکي. د یوه کار د ترسره کولو لهپاره د بېلابېلو لارو او اوزارو له شتون څخه څوک خبر دی؟ هرو مرو، هغه څوک چې پوه دی. پوهاوی مو‌ږ ځواکمنوي.

### ګرانو ملګرو!

ایا پوهېږئ چې دا کتابونه څوک درته چمتو کوي؟ اجازه راکړئ چې در ویې‌پېژنم؛ د افغانستان معلوماتو په مرکز کې ستاسو ملګري درته دا کتابونه چمتو کوي. هغوی تل هڅه کوي چې ستاسو لهپاره ښکلي او په زړهپوري کتابونه چمتو کړي.
۲۱کاله کېږي چې د افغانستان معلوماتو مرکز د کتابونو په چاپ او خپرولو او د مطالعاتي موادو په چمتو کولو بوخت دی. دا کتابونه زمو‌ږ لیکوال ستاسو لهپاره لیکي. «ځواکمن»

پروګرام دا کتابونه په پښتو، دري-فارسي، ازبکي او... ژبو چاپوي او تر تاسو يې رسوي.

**گرانو لوستونکو!**

حتماً تاسو دا کتابونه لولئ او د دغو کيسو، ترانو او شعرونو له لوستلو خوند اخلئ. دا کتابونه مو چې ولوستل، ستاسو لەپاره نور نوي او په زړەپورې کتابونه چې ښکلې ادبي، علمي او بوختوونکې کيسې لري، ليکو. تاسو د دې کتابونو په لوستلو سره «ځواکمن» کېږئ. «ځواکمن» پروګرام هېڅ کله تاسو نەهېروي. د لارې له لرېوالي او واټن مەوېرېږئ. ځواکمن/ ABLE پروګرام د افغانستان ۳۴ ولايتونو او ان له هېواده بهر ته لاسرسی لري او هر چېرته چې وئ، کتابونه تاسو ته دررسوي.

زموږ لوی شاعر، فردوسي څه ښه ويلي:

توانا بود هرکه دانا بود
ز دانش دل پیر بُرنا بود

**ځواکمن/ ABLE پروګرام**

ديارلس‌نيم مليارد کاله پخوا د تياره اسمانونو په زړه کې، ناڅاپه رڼا وپړکېده او نړۍ روښانه شوه. د نړۍ رڼايي کال په کال زياتېدله. هر کال به په زرهاوو ستوري او سيارې رامنځ ته کېدلې. سيارو رڼا نه‌درلوده، خو ستوري رانه او روښانه وو. په هماغو کلونو کې يو لوی ستوری چې مور يې نوم «لمرينه ترور» ږدو، وزېږېده. هغه د ستورو له دويم نسله ده چې شاوخوا پنځه مليارد کاله پخوا د تياره اسمان په تشه(فضا) کې روښانه شوه. لمرينه ترور په خپله ونه‌پوهېده چې څنګه پيدا شوه، فقط احساس يې کړه چې راويښه شوې



## د لمريني لوړې



ده. کله چې یې سترګې ښې وغړولې او ځلورو خواوو ته یې وکتل، هېڅوک او هیڅ شی یې ترڅنګ ونه‌لید. تنهایي یې احساس کړه. زرګونه کاله یې په یوازې ځان په تنهایۍ کې ژوند وکړ. په یوازیتوب کې به یې د اسمان لرو ته کتل او لیدل به یې چې زرګونه ستوري ورته سترګکونه وهي.

لمرینې ترور په زړه کې هیله کوله، کاشکې زه هم د نورو ستورو ترڅنګ وای! له ځان سره به یې ویل: «بختوران د یو بل په خوا کې دي، له یو بل سره خبري کوي، له یو بل سره تاوېږي او زما غوندې دومره یوازې، په تنګ او خواشیني نه‌دي.»



لمرینه ترور له دې ناخبره وه چې هر یو ستوری د دې په څېر یوازې دی. لکه څنګه چې هغوی له لمرینې ترور څخه خورا ډېر لرې وو؛ نو یو بل ته نږدې برېښېدل. د نورو ستورو له دیده لمرینه ترور هم په اسمان کې د نورو ستورو تر څنګ ښکارېده، خو لمرینه ترور په دې نه‌پوهېده. فقط په دې پوهېده چې له یوازیتوبه ځورېږي.

لمرینه ترور چې کلونه کلونه یوازې پاتې وه، بیخي مړاوې او ناهیلې شوې وه. خو یوه ورځ یې د بې‌سارې خواشینۍ پرمهال د عطارد پر سیارې سترګې ولګېدې. له عطارد لږ څه وړاندې یې



د زهـرې سـیاره ولیـده. لږ څـه لـرې یـې د ځمکـې سـیاره ولیـده. وروسـته یـې مریـخ هـم ولیـده او لـه مریـخ لـرې یـې مشـتري، زحـل، اورانـوس او نپتـون سـیارې هـم ولیـدې. اتـه حیرانوونکـې سـیارې چې پنډوسکې تـه ورتـه وې او د لمرینـې ترور په شـاوخوا کـې تاوېدلـې. ځینـو یـې یـوه یـا څـو سـپوږمۍ هـم درلـودې چـې د هماغـو سـیارو پـر شـاوخوا راڅرخېـدې. لمرینـه تـرور د هغـو پـه لیـدو؛ هـم خـورا ډېـره حیرانـه شـوه او هـم خـورا ډېـره خوشـحاله شـوه. لـه ډېـرې خوښـۍ یـې څلـور ښـاپېرۍ وزېږولـې. یـوه شـنه




ښاپېرۍ، یوه سره ښاپېرۍ، یوه زېړه ښاپېرۍ، او یوه سپينه ښاپېرۍ.

کله چې به يې ښاپېريو په شاوخوا کې لوبې کولې؛ نو فضا به ښکلې او رنګينه شوه او ډېر خوند به يې ځنې اخست. سلګونه کاله تېر شول، خو د لمرينې ترور اته ګاونډۍ سيارې چې د هغې پر شاوخوا راڅرخېدې، کال په کال تتې او کم‌رنګه کېدلې. لمرينه ترور به هم د هغوی د الوتې ښې او تت رنګ په ليدلو ډېره خواشيني کېده. مدام به يې فکر کاوه، څه وکړي چې هغوی بېرته رڼې او روښانه شي. په پای کې يې يوه ورځ خپله



پرېکړه وکړه؛ لونړو ته یې وویل: «باید یو کار وکړو.»
څلور واړه ښاپېریو په یوه غږ وویل: «څه کار کولی شو مورې؟»
لمرینۍ ترور وویل: «تاسو باید د هغوی لور ته ورشئ، هغوی روښانه کړئ، هغوی باید رنګینې، ښکلې او تازه کړئ.»
ښاپېریو د خوښۍ نارې وکړې او ویې‌ویل: «په سترګو، زموږ خوښېږي چې دا کار وکړو، خو یوه یوه ورځو، که چېرې ټولې لاړې شو ته یوازې کېږي. کمزورې کېږي او ښایي له منځه لاړه شي.»
لمرینۍ ترور د خپلو لونړو خبره ومنله. شنه ښاپېرۍ د لمرینۍ ترور لومړنۍ لور وه چې سفر ته تیاره شوه.




# شنه ښاپېرۍ




شنه ښاپېرۍ له مور او خویندو بېله شوه او د سیارو پر لور والوته. هرڅومره چې په سیارو وګرځېده، له ځمکې پرته ورته بلې یوې سیارې هرکلی ونه‌وایه. چې ځمکې ته نږدې شوه، توري وریځې هم په اسمان کې راپیدا شوې. تېز بادونه ولګېدل او باران هم په ورېدو بنا وکړه. باران ورېده او د ځمکې له زړه وښو، بوټو او ګلانو سرونه ووهل. غرونه هسک شول او سیندونه روان شول. ځنګلونه شنه او دښتې له رنګارنګ ګلانو ډکې شوې. د هرې ورځې په تېرېدو سره ځمکه تازه



او نوره هم پسې زرغونېدله. زرګونه ډوله بوټي او ځناور او کبان او انسانان د ځمکې پر مخ وخوځېدل. مرغان په هر لوري والوتل او د هرې څانګې پر سر یې په سندرو ویلو بنا وکړه، کبانو په اوبو کې لامبو پیل کړه او انسانانو د کورونو جوړول پیل کړل.... شنه ښاپیرۍ ډېره خوشحاله وه چې ځمکې ته یې ژوند بښلی، په راتلو سره یې پر ځمکه شین رنګ پاشلی دی، او وچې ځمکې د هغې له وجوده ساه اخستې ده.








لمرينـي تـرور بـه هـره ورځ لـه هماغـه پورته څخـه د ځمكې ننـداره كولـه او د ځمكـې لـه زرغـون رنـګ څخـه چـې لوركـۍ تـه يـې ورتـه و، خونـد اخسـت. د ځمكـې لـه تـازه‌والي او ښـېرازۍ يـې خونـد اخسـت. كله چـې ټوله ځمكه زرغـون شـوه، شـنه ښـاپېرۍ هـم كـرار كـرار كـور تـه سـتنه شـوه. پـه الـوت الـوت د مـور لـور تـه راغلـه او ويې‌ويـل: «مورجانـې پوهېـږي چـې پـه ځمكـه كـې مـې څـه وليـدل او څـه واورېـدل؟»


لمرينـي ترور وويل:«له كومه پوه شم؟»

شـنې ښـاپېرۍ وويـل: «كلـه چـې ټوله ځمكـه شـنه زرغونه شـوه، وېوغوټۍ



وکړې او واښه زرغون شول، او رنګارنګ ګلان له خړې خاورې راووتل، زرګونه ډوله ژوندي ژوي وخوځېدل، ځنګلونه هسک شول، طبیعت له دغې ټولې ښکلا او لورینې په حول راغی. هغوی زما نوم «پسرلی» کېښود. زه پسرلی یم.

لمرینې ترور وخندل او سرې ښاپېرۍ ته چې له زېړې او سپینې ښاپېرۍ یې د سفر لپاره ډېر هوس درلود، وویل: « اوس ستا وار دی. لاړه شه چې طبیعت درته څه نوم غوره کوي.»





# سره ښاپېرۍ

سره ښاپېرۍ، لومړۍ د شنې ښاپېرۍ کیسو ته ښه غوږ شوه، د هغې د سفر له تجربو یې ډېر څه زده کړل او بیا په پوره باوروالي د سیارو پر لور والوته او د مځکې په څېر یې یوازې ځمکې هرکلی وکړ. سره ښاپېرۍ چې هر ځای ته ورسېده، هلته یې تودوخه او تاو(حرارت) خپور کړ.
ونې او ځنګلونه ډېر خوشحاله وو. څانګې له خوږو او خوندورو مېوو ډکې شوې. د کومو ونو مېوو چې ډېرې تودوخې ته اړتیا



لرله، پخې شوې. طبیعت چې ولیدل بوټي رسېدلي دي او د هغو له تخمونو نور بوټي راشنه کېږي، خوشحاله و. طبیعت د سرې ښاپېرۍ تود هرکلی وکړ او د هغې نوم یې «اوړی» کېښود. اوړي تر هغه وروسته چې د ځمکې ګوټ ګوټ ته تودوخه او تاو وبانښه، کور ته ستون شو.

زېړې او سپینې ښاپېرۍ چې د سفر لهپاره شیبې شمارلې، د اوړي په ستنېدو سره لمرینې ترور نوبت زېړې ښاپېرۍ ته ورکړ.




# زېړه ښاپېرۍ

لمرينۍ ترور زېړه ښاپېرۍ پر مخ ښکل کړه او ويې ويل: «د مور خوږې، په خير لاړه شې!»

زېړه ښاپېرۍ د باد په څېر د سيارو پر لور والوته او د مځکې په څېرې يوازې ځمکې هغې او هغو بادونو ته چې له ځانه سره يې راوړي وو، هرکلی ووايه. هغه هم چې د ځمکې هر گوټ ته ورسېده په ونو او بوټو يې زېړ او طلايي رنگ وپاشه. باد هم له دمې پرته د رنگونو په پاشلو کې له زېړې ښاپېرۍ سره مرسته کوله.

کوم بوټي او ونې چې د اوړي د سفر پرمهال رسېدلي وې، خوښېدل يې چې تخمونه او دانې يې وشيندل شي، خو دا



کار یې په یوازې ځان نه‌شو کولای. د زېړې ښاپېرۍ په راتګ او د بادونو په لګېدو سره د بوټو او ونو تخمونه او دانې هر لور ته وپاشل شوې. د ځمکې ګوټ ګوټ زېړ شوی و.

زېړې ښاپېرۍ لیدل چې د ونو پاڼې زېړې شوې دي او د باد له امله رېږدي او ځمکې ته راتوییږي. طبیعت چې تر هغه وخته د ځنګله زېړ رنګ نه و لیدلی، د ونو او بوټو د زېړ رنګ په لیدلو خورا ډېر خوشحاله شو. د رنګونو ښکلا ته ځیر شو او د دغه ښکلي رنګ د پاشلو له امله یې له زېړې ښاپېرۍ مننه وکړه او ویې‌ویل: «پوهېږې، ما تا ته هم یو نوم غوره کړی او دا نوم «منی» دی. له دې وروسته چې هر وخت ځمکې ته



راغلې زه دې «منی» بولم.» باد هم د دغه ښکلي نوم په اورېدو ناره وکړه او یو څه تېز په لګېدو شو.
مني، باد ته مخ کړ او په موسکا يې وويل: «ته مې ډېر ښه ملګری یې، خو زه د ډېرې سړوخې (یخنۍ) طاقت نه‌لرم او له پانو سره رژېږم، که له دې تیز راوالوځي، دوام نه‌شم راوړلی.»
باد وویل: «زه هم ډېر خوشحاله یم، داسې احساسوم چې مهم کار ترسره کوم، ځکه د بوټو نسل له ډېرېدو او د وریځو له بارورۍ سره مرسته کوم، د همدې له‌پاره مې خوښېږي چې ډېر کار وکړم.»
مني وویل: «ډېره ښه ده، زما نوبت نور پای ته رسېدلی

او باید لاړ شم، ځکه مور راته اندېښمنه ده.» بیا یې له باد، طبیعت او ځمکې سره خدای پاماني وکړه او د کور په طرف والوت.

لمرینه ترور په هغه ټوله موده کې چې منی ځمکې ته تللی و، په ځلونو ځلونو د ځمکې ننداره کړې وه او د ځمکې له زېړ او طلايي رنګ یې خوند اخستی و. کله چې منی راورسېد په غېږ کې یې ونیو او له دې کبله چې د ځمکې د طلايي رنګ په لیدلو خوشحاله شوې وه، لومړی یې منی او بیا یې سپینه ښاپېرۍ ښکل کړه او ورته یې وویل: «زما شوخې لورکۍ، اوس نو ستا وار دی!»




سپينه ښاپېرۍ چې تر ډېره په تمه پاتې شوې وه او هره ورځ يې له خپلې مور سره د ځمکې ښکلي رنګونه کتل، مور ته وويل: مورجانې څومره دې خوښېږي چې ځمکه په سپين رنګ وګورې؟ اوس زه ورځم او پر ځمکه سپين رنګ پاشم.
لمرينې ترور وخندل او له دې امله چې لوڼې يې د خپلې مور د خوښولو لپاره خپل مسووليتونه په ښه توګه ادا کوي، په جامو کې نه ځايېده.
سپينې ښاپېرۍ له لمرينې ترور او خويندو سره خداى پاماني وکړه او د سيارو پر لور والوته او د تل په څېر يوازې ځمکه



وه چې سپينې ښاپېرۍ ته يې هرکلی وواېه. ځمکې ته لا نه‌وه رسېدلې؛ کومې وريځې چې د باد په لاسونو کې هر لور ته سرگردانه وې، ځانونه وروپېژندل او ويې‌ويل: «موږ د منې ملگري يو. موږ تاته(ژمي) ته سترگې په لاره وو.»
سپينه ښاپېرۍ د خپل نوم په اورېدو حيرانه شوه او په مهربانۍ يې وويل: «زه له خورا لرې ځايه راغلی يم، غواړم پر ځمکه سپين رنگ وپاشم. نو بيړه وکړئ!»
د ورېځو غومپکو ځانونه سره راټول کړل او يوځای شوې. باد هم په نڅا بنا وکړه. باد او ورېځ په يوه غږ وويل: «موږ ستا ملگرتيا کوو.»





سپینه ښاپېرۍ چې د نویو ملګرو له فرمانبردارۍ خوشحاله شوې وه، وویل: ډېره ښه ده، په ګډه ورځو او ځمکه په سپین رنګ پوښو.

ونې او بوټي ټول د واورې سپین رنګ خوشحاله کړي وو.

طبیعت چې د ژمي په راتګ ډېر خوشحاله شوی و، له ځانه سره وویل: «څومره ښه ده چې د لمریني ترور لوڼې په نوبت راشي او ما رنګین کاندي او څومره ښه ده چې ځمکه خپل سپین مخملي کالي واغوندي.»

بیا یې ژمي ته وویل: «پوهېږې چې زه څه هیله لرم؟»

ژمي په لوړ غږ وویل: «هو، دا هیله به مو له خپلې مور

سره شریکه کړم. ورته وایم ځمکه غواړي چې د لمرینې ترور لونې همېشه په خپل وار ځمکې ته راشي او لاړې شي.»

بیا یې له طبیعت، وریځ او باد سره خدای پاماني وکړه او ویې ویل: «ډېر ژر به بیا یو بل وګورو.»


لمرینه ترور له پسرلي، اوړي، او منې سره غږېده چې ژمی کور ته راغی. لمرینې ترور خپلې لونې په غېږ کې ونیوې. له دې کبله چې لوی کارونه یې ترسره کړي وو؛ نو ستر جشن یې جوړ کړ. لونو یې په نڅا او د دې ترانې په ویلو سره، جشن نور هم پسې ښکلی کړ:



**مورجانه مې لمرينه**
**نور په هر ځای کې لرينه**
**موږ د هرې کيسې ساز**
**اماده يو د پرواز**
**رنګارنګ او يو د منې خزانې**
**وايو يو بل ته ښايستوکې ترانې**



موږ د پريږاد نسل
د دوو نړۍ ازاد نسل
انگور د تابستان يو
له بادې څخه مستان يو
گلونه د بهار يو
ژمی او خزان يو





مور زموږه ده لمرينه
خور زموږه ده سپوږمينه
موږ د هر فصل کيسه يو
موږ د وصل ګل‌بوته يو
ځمکه موږ سره ښايستوکې
خوشبويه او رنګ ايستوکې



موږ مین یو د سپوږمۍ
د گیاه او وریځکې
غرونه، دښتې او سیندونه
خوښ یې موږ سره هډونه
مورجانه مې لمرینه
مینه هر ځأیه ورو ینه



لمرینه ترور د دې ښکلې ترانې په اورېدو حیرانه شوه او له خپلو لوڼو یې وپوښتل: «دا ترانه مو له کومه زده کړې ده؟»

لوڼو یې وویل: «دا ترانه د ځمکې خلکو زموږ لهپاره ویلې ده. د ځمکې خلک له موږ سره ډېره مینه لري. هر کله چې کوم یو ځمکې ته ورشو زموږ په لیدو خوشحاله کېږي او موږ ته ترانه وایي.»



ژمي وويل: «د ځمکې ټول ژوندي‌سري هيله لري چې ای کاش د لمرينې ترور لوښې، همېش راشي او لاړې شي.»
لمرينه ترور د دې خبرې په اورېدو ډېره خوشحاله شوه او له هغې راوروسته مليونونه کاله کېږي چې د لمرينې ترور لوښې په خپل وار ځي او راځي. هر ځل چې د لمرينې ترور کومه لور ځمکې ته راځي؛ نو يو فصل په ځمکه کې پاتې کېږي. لکه څنگه چې



لمرینه تر ور ثلور لوښې لري؛ نو ځمکه هم د ثلورو فصلونو درلودونکې شوه. له هماغه راهیسې تر ننه د لمرینې تر ور ښاپېرۍ لوښې په کال کې یو ځل ځمکې ته راځي او د کال فصلونه بدلوي، څو ځمکه خړه پاتې نه‌شي.



گلالیو ماشومانو! دا وه د لمریني ترور د لوښو کیسه. لمرینه ترور هر کال خپلې لوښې ځمکې ته رالېږي. ځمکه د لمرینې ترور تر ټولو ښایسته او د مینې وړ خورکۍ ده. ځمکه تل د لمرینې ترور په زړه کې ځای لري. لمرینې ترور هېڅ کله خپله انرژي او رڼا له ځمکې نه ده سپمولې. لمرینه ترور تر نورو سیارو چې په

مدار کې یې راڅرخي، له ځمکې سره ډېره مینه لري. خو اوس چې لمرینه ترور تر څلورنیم ملیارد کاله وروسته ځمکې ته ګوري، ډېره اندېښمنه کېږي. پوهېږئ ولې؟ ځکه وینې چې د ځمکې ځلا، رنګارنګوالی، تازه‌والی او رڼایي راکمه شوې ده. د هرې ورځې په تېرېدو سره دا ښکلې ځمکه تته او کم‌رنګه کېږي. پوهېږئ ولې؟ ځکه انسانان په ځمکه کې د لمرینې ترور د لوڼو د ښېګڼو


په قدر نه‌پوهېږي. انسانان د ځنګلونو ونې وهي، د ځمکې لاندې اوبه بې‌ځایه مصرفوي، پلاستیک او خځلې په چاپېریال کې اچوي، د مرغانو او حیواناتو ښکار کوي او هېڅ د طبیعت په فکر کې نه‌دي.
لمرینه ترور ځمکې ته ډېره اندېښمنه ده. وېرېږي چې ځمکه بیا کم‌رنګه او تته نه‌شي او د ښکلو لوښو ټول نوښتونه او زحمتونه یې په سیند لاهو نه‌شي.



رسامی سحر حمیدی



طبیعت هم خواشینی دی. کله چې د ځنګله ارواه خواشینې وي، معنا یې دا ده چې ځمکه له خطر سره مخ ده. د ځنګله ارواه له غرونو، سیندونو او ځناورو سره خوشحاله ده، خو کله چې دوی ته زیان اوړي د ځنګله ارواه هم خواشینې کېږي. موږ باید له طبیعت او د لمرینې



ترور له لوښو سره ډېره مينه ولرو. او به بې ځايه مصرف نه کړو، هېڅکله له پلاستيک څخه ګټه وانه خلو، مرغان او حيوانات ونه ځوروو، څو د لمرينې ترور لوښې د تل له پاره زموږ سياره توده، رنګارنګ او ښکلې وساتي.

# پای

# د توانا/ځواکمن ( ABLE) له خوا خپاره شوي کتابونه

١ د افغانستان عمومي جغرافيه
٢ جغرافیای عمومی افغانستان
٣ د افغانستان تاریخی ودانۍ
۴ بنا های تاریخی افغانستان
۵ د افغانستان محلي خواړه
٦ ورزشهای محلی افغانستان
٧ سپینه کوتره
٨ کمان طلائی
٩ زده کړو چه ورزده کړو!
١٠ بیاموزیم تا بیاموزانیم!
١١ په افغانستان کې د چاپیریال ساتنه
١٢ حفاظت محیط زیست در افغانستان
١٣ په افغانستان کې د بوزغلیو او باغونو جوړونه او روزنه
١۴ تربیه و تهیه بزق و باغها در افغانستان
١۵ د تمدن سوغات
١٦ ارمغان تمدن
١٧ زلزله در افغانستان
١٨ په افغانستان کې زلزلې
١٩ معیوبین و جامعه
٢٠ معیوبین او ټولنه
٢١ د افغانستان لنډه کی تاریخ
٢٢ تاریخ فشردۀ افغانستان
٢٣ د چرگانو ساتنه
٢۴ مرغداری
٢۵ دنیای کودك
٢٦ د ماشوم نړۍ
٢٧ نگاهی بر اوضاع اقتصادی افغانستان
٢٨ د افغانستان اقتصادي حالت ته یوه کتنه
٢٩ د شاتو مچیو روزنه
٣٠ زنبور داری
٣١ د افغانستان مشاهیر(لومړی ټوك)
٣٢ مشاهیر افغانستان(جلد اول)
٣٣ د افغانستان کلك پوستې میوې
٣۴ میوه های سخت پوست افغانستان
٣۵ جغرافیای ولایات افغانستان
٣٦ د افغانستان د ولایتونو جغرافیه
٣٧ تکنالوژی بایوگاز
٣٨ د بایوگاز تکنالوژي
٣٩ پرخوری یا خود خوری
۴٠ ډیر خوراکي
۴١ بازی های عامیانۀ اطفال
۴٢ د ماشومانو اولسي لوبې
۴٣ – ۴۴ لندی ها
۴۵ رهنمای تشخیص و تداوی امراض چشم، گوش، گلو و بینی

۴۶ د سـترگو، غـوږ، سـتوني او پـزې ناروغيـو د تشـخيص او درملنــې لارښــود
۴۷ سرگرمی با تجربه های علمی
۴۸ په علمی تجربو سره وخت تیرول
۴۹ په افغانستان کې کاني زيرمې
۵۰ ذخایر معدنی افغانستان
۵۱ اساسات ماهی پروری
۵۲ د کبانو د روزلو لارښوونې
۵۳ اوبه د ژوند سرچينه
۵۴ آب سرچشمۀ حیات
۵۵ تدبیر منزل
۵٦ د کور سمبالښت
۵۷ سبزی ها
۵۸ سابه
۵۹ د افغانستان مشاهير (دويم ټوك)
٦۰ مشاهیر افغانستان (جلد دوم)
٦۱ توصیه های مفید برای انکشاف باغداری در افغانستان
٦۲ پـه افغانسـتان کـې د باغونـو د پرمختـگ پـه هکلـه گټـورې لارښـونې
٦۳ شاهراه های افغانستان
٦۴ د افغانستان لویې لارې
٦۵ ورزش
٦٦ ورزش (پښتو)
٦۷ تاریخ مختصر وسایل اطلاعات جمعی در افغانستان
٦۸ په افغانستان کې د ډله ييزو اړيکو د وسايلو تاريخ
٦۹ سیمای محیط زیست افغانستان
۷۰ د افغانستان د چاپيريال بڼه
۷۱ اقتصاد
۷۲ اقتصاد (پښتو)
۷۳ تخنیک ابتدایی رادیو
۷۴ د راډيو لومړنی تخنيك
۷۵ د افغانستان مشاهير (دريم ټوك)
۷٦ مشاهیر افغانستان (جلد سوم)
۷۷ دانستنی های مالداری و وترنری
۷۸ د وترنری او مالدارۍ په هکله لارښوونې
۷۹ صنایع دستی افغانستان
۸۰ د افغانستان لاسي صنايع
۸۱ هرات در دوره تیموری ها
۸۲ هرات د تیموريانو په دوره کې
۸۳ نباتات صنعتی
۸۴ صنعتي بوټې
۸۵ جهان نما
۸٦ نړۍ ښود
۸۷ گلدستۀ اطفال
۸۸ د ماشومانو گل غونچه
۸۹ آبهای تحت الارضی و معدنی افغانستان
۹۰ د افغانستان تر ځمکې لاندې او کاني اوبه
۹۱ روغه ټولنه

۹۲ جامعهٔ صحت مند
۹۳ شهر کابل در طی قرون
۹۴ کابل ښار د پېړيو په اوږدو کې
۹۵ اطلس ولایات افغانستان
۹٦ د افغانستان د ولايتونو اطلس
۹۷ تجارت در افغانستان
۹۸ په افغانستان کې سوداګرۍ
۹۹ سیری در امواج موسیقی
۱۰۰ د موسيقي په څپو کې
۱۰۱ کمپيوټر (پښتو)
۱۰۲ کمپیوتر (دری)
۱۰۳ باستان شناسی در افغانستان
۱۰۴ لرغون پېژندنه په افغانستان کې
۱۰۵ ادب پوهنه
۱۰٦ ادب شناسی
۱۰۷ اساسات تولید نباتات زراعتی در افغانستان
۱۰۸ په افغانستان کې د کرنيزو نباتاتو توليد
۱۰۹ افسانه ها و سرگرمی ها برای اطفال
۱۱۰ د ماشومانو لپاره کيسې او سرګرمي
۱۱۱ حیات وحش در افغانستان
۱۱۲ د افغانستان وحشي ژوي
۱۱۳ محیط زیست و اقلیم افغانستان
۱۱۴ د افغانستان چاپېريال او اقليم
۱۱۵ گوهر شاد ستارهٔ تابناك عصر تیموریان
۱۱٦ ګوهر شاد د تيموريانو په دوره کې ځلانده ستورې
۱۱۷ افسانهٔ گلها
۱۱۸ د ګلانو کيسې
۱۱۹ صحت خود را چگونه وقایه نماییم؟
۱۲۰ خپل روغتيا څنګه وساتو؟
۱۲۱ جهان ما
۱۲۲ زموږ نړۍ
۱۲۳ مشکلات مسکن در افغانستان
۱۲۴ په افغانستان کې د استوګنځي ستونزې
۱۲۵ پـه افغانسـتان کـې صنايـع او پـه مـلي اقتصـاد کـې يـې ونـډه .
۱۲٦ صنایع در افغانستان و نقش آن در اقتصاد ملی
۱۲۷ د کورني ژوند لارښود
۱۲۸ رهنمای زندگی خانوادگی
۱۲۹ مجموعهٔ مقالات هشتمین سمینار بین المللی کوشانیان
۱۳۰ د کوشانيانو د اتم سمينار د مقالو ټولګه
۱۳۱ دستور همه گانی زبان دری (صرف و نحو)
۱۳۲ د پښتو ژبې لنډ ګرامر (صرف – نحو)
۱۳۳ باستان شناسی در افغانستان (جلد دوم)
۱۳۴ په افغانستان کې لرغون پېژندنه (دويم ټوك)
۱۳۵ طبي بوټي
۱۳٦ نباتات طبی
۱۳۷ دانش برای نوجوانان
۱۳۸ د نويو ځوانانو لپاره پوهه او معلومات

۱۳۹ با مخلوقات خطرناك طبیعت آشنا شویم
۱۴۰ د طبیعت د ځینو خطرناکو مخلوقاتو پېژندنه
۱۴۱ څو خطرناکې ناروغی ...
۱۴۲ چند بیماری خطرناك ...
۱۴۳ برخی از معلومات، نمایشهای تفننی و رموز آن
۱۴۴ ځیني معلومات او د تفنني ننداړو رمزونه
۱۴۵ توانایي ها و شرایط يك اداره چی
۱۴۶ د یوه اداره چي ځواکونه او شرایط
۱۴۷ په افغانستان کې د کتابخانو لنډ تاریخ
۱۴۸ تاریخ مختصر کتابخانه ها در افغانستان
۱۴۹ دریا های افغانستان
۱۵۰ د افغانستان سیندونه
۱۵۱ د لغمان تاریخي جغرافیه
۱۵۲ جغرافیه تاریخی لغمان
۱۵۳ نشه يي توکي، تنباکو تر هیروئینو پورې
۱۵۴ مخدرات، از تنباکو تا هیروئین
۱۵۵ مفهوم دموکراسی
۱۵۶ د دموکراسۍ مفهوم
۱۵۷ افغانستان به سوی دموکراسی
۱۵۸ افغانستان د دموکراسۍ په لور
۱۵۹ حقوق شهروندی در افغانستان
۱۶۰ په افغانستان کې د ښاریتوب حقونه
۱۶۱ وظایف شهروندی در افغانستان
۱۶۲ په افغانستان کې د ښاریتوب دندې
۱۶۳ تجارت برای همه
۱۶۴ سوداګري د ټولو لپاره
۱۶۵ پیام های صحی برای خانواده ها
۱۶۶ روغتیایي بنسټیز پیغامونه د کورنیو لپاره
۱۶۷ سل یا توبرکلوز چیست؟
۱۶۸ نری رنځ یا توبرکلوز څه دی؟
۱۶۹ آرشیف ملی افغانستان، گنجینۀ ذخایر معنوی کشور
۱۷۰ د افغانستان ملي آرشيف د هیواد د معنوي زیرمو خزانه
۱۷۱ The Afghanistan National Archives, a treasure trove of the nation's heritage
۱۷۲ نظری به عوامل مرگ و میر مادران و اطفال نوزاد
۱۷۳ د میندو او نویو زیږیدلو ماشومانو د مړینې لاملونو ته یوه کتنه
۱۷۴ تربیت و پرورش کودک از تولد تا دورۀ مکتب
۱۷۵ د ماشوم پا لنه او روزنه، له زده کړې څخه تر ښوونځي
۱۷۶ جنگلات و منابع آبی در افغانستان
۱۷۷ د افغانستان ځنگلونه او د اوبو زیرمې
۱۷۸ مکتب معیاد گاه کمال و فضیلت
۱۷۹ ښوونځي د کمال او فضیلت روزنزي
۱۸۰ قصه های عامیانه از افغانستان
۱۸۱ د افغانستان ځینې فولکلوري کیسې
۱۸۲ پر کرنیزو حاصلاتو باندې د کیمیاوي موادو ناوړه اغیزې
۱۸۳ تأثیرات سوء مواد کیمیاوي بالای محصولات زراعتی
۱۸۴ سرگرمی با اعداد و رشد استعداد های شما

۱۸۵ له اعدادو سره بوختیا او ستاسو د استعدادونو وده
۱۸٦ زنان معروف افغانستان
۱۸۷ د افغانستان نومیالۍ میرمنې
۱۸۸ شورا های ولایتی دریچه یی به سوی وحدت ملی
۱۸۹ ولایتی شوراگانې د ملي یووالي په لور دریڅې
۱۹۰ اقتصاد سنگ در افغانستان
۱۹۱ په افغانستان کې د تیږو اقتصاد
۱۹۲ نگاهی بر هویت فرهنگی زنان در افغانستان
۱۹۳ په افغانستان کې د ښځو کولتوري هویت
۱۹۴ پرورش گوسفند در افغانستان
۱۹۵ په افغانستان کې د پسونو روزنه
۱۹٦ افغانستان در گذشت زمان
۱۹۷ افغانستان د زمانی په اوږدو کې
۱۹۸ سیاحان معروف افغانستان و جهان
۱۹۹ د نړۍ او افغانستان ځینې نومیالی گرځندویان
۲۰۰ هنر های زیبا در افغانستان(جلد ۱)
۲۰۱ په افغانستان کې ښکلي هنرونه (لومړی ټوك)
۲۰۲ آموزش و رهنمای رانندگی
۲۰۳ د موټر چلولو زده کړه او لارښود
۲۰۴ قصه های عامیانه از افغانستان (جلد دوم)
۲۰۵ د افغانستان ځینې ولسي کیسې (دویم ټوك)
۲۰٦ هنر و هنر های زیبا در افغانستان (جلد دوم)
۲۰۷ په افغانستان کې هنر او ښکلي هنرونه (دویم ټوك)
۲۰۸ د افغانستان ځینې ولسي کیسې (دریېم ټوك)
۲۰۹ قصه های عامیانه از افغانستان (جلد سوم)
۲۱۰ نقش و مسوولیت های جوانان در افغانستان
۲۱۱ په افغانستان کې د ځوانانو ونډه او مسوولیت
۲۱۲ د افغانستان مشاهیر (څلورم ټوك)
۲۱۳ مشاهیر افغانستان (جلد چهارم)
۲۱۴ په افغانستان کې د وزو ساتنه او روزنه
۲۱۵ نگهداری و پرورش بز در افغانستان
۲۱٦ په افغانستان کې بانکنوټونه
۲۱۷ بانکنوت ها در افغانستان
۲۱۸ مسافرت در افغانستان (جلد اول)
۲۱۹ په افغانستان کې مسافرت او گرځندویي (لومړی ټوك)
۲۲۰ مسافرت در افغانستان (جلد دوم)
۲۲۱ په افغانستان کې مسافرت او گرځندویي (دویم ټوك)
۲۲۲ تولد هنرمند (رومان)
۲۲۳ د هنرمند زوکړه (رومان)
۲۲۴ ارزش های هنری و فرهنگی عمارات افغانستان
۲۲۵ د افغانستان د ودانیو هنري او فرهنگي ارزښتونه
۲۲٦ افغانی کابینې
۲۲۷ کابینه های افغانی
۲۲۸ بالاحصار کابل
۲۲۹ د کابل بالاحصار
۲۳۰ اساسات بیولوژی
۲۳۱ د بیولوژي اساسات
۲۳۲ نقش و اهمیت نباتات (جلد اول)

۲۳۳ د ونو او بوټو اهمیت(لومړی ټوک)
۲۳۴ هنرهای زیبا درافغانستان (جلد سوم)
۲۳۵ په افغانستان کې ښکلي هنرونه (دریيم ټوک)
۲۳٦ ترانه های اطفال
۲۳۷ د ماشومانو ترانې
۲۳۸ جان من مادر من
۲۳۹ زما ځانه زما  مورې
۲۴۰ جشن نوروز و بازتاب آن در تاریخ ...
۲۴۱ د نوروز جشن او دافغانستان په تاریخ کی دهغه انعکاس
۲۴۲  د رنگونو پیژندنه او په هنر کی دهغو کارول
۲۴۳  شناخت رنگ وکاربرد آن درهنر
۲۴۴ تلفون همراه (موبایل) همسفر زندگی
۲۴۵ گرځنده تلیفون (موبایل) د ژوند ملگری
۲۴٦ اسرار هستی و منابع در افغانستان
۲۴۷ په افغانستان کې د شتمنیو او زیرمو رازونه
۲۴۸ حکایات و مطالب برگزیده (جلد اول)
۲۴۹ غوره حکایتونه او مطالب(لومړی ټوك)
۲۵۰ اصول اجتماعی و سلامت معنوی در افغانستان
۲۵۱ په افغانستان کې ټولنیز اصول او  معنوي سلامتیا
۲۵۲ افغانستان در عهد طاهریان
۲۵۳ افغانستان د طاهریانو به دوره کې
۲۵۴ نقش واهمیت صرفه جویی در مصارف
۲۵۵ په لگښتونوکېدسپما ونډه او اهمیت
۲۵٦ د سولې هرکلی
۲۵۷ به مهمانی صلح
۲۵۸ نگاهی به هنر سرامیک در افغانستان
۲۵۹ په افغانستان کې د سرامیك هنر ته کتنه
۲٦۰ هنرزیور سازی در افغانستان
۲٦۱ په افغانستان کې د زرگرۍ هنر
۲٦۲ شیوه های بدیل کشت کوکنار در افغانستان
۲٦۳ په افغانستان کې د کوکنارو د بدیل کښت لارې چارې
۲٦۴ کرکټ په افغانستان کې
۲٦۵ کرکت در افغانستان
۲٦٦ تاریخ و مدنیت قدیم هرات
۲٦۷ د هرات لرغونی تاریخ او مدنیت
۲٦۸ رهنمای مسافرت در افغانستان (جلد سوم)
۲٦۹ په افغانستان کې مسافرت او گرځندوی لارښود (دریم ټوک)
۲۷۰ رهنمای مسافرت در افغانستان (جلد چهارم)
۲۷۱ په افغانستان کې مسافرت او گرځندوی لارښود (څلورم ټوک)
۲۷۲ رهنمای مسافرت در افغانستان (جلد پنجم)
۲۷۳ په افغانستان کې مسافرت او گرځندویی  لارښود (پنځم ټوک)
۲۷۴ روغتیایي لارښوونې (لومړی ټوک)
۲۷۵ رهنمای صحی (جلد اول)
۲۷٦ حکایات و مطالب برگزیده (جلد دوم)
۲۷۷ غوره شوي حکایات او ټوکې (دوهم ټوک)

۲۷۸ د افغانستان کلي د پراختیا په لور
۲۷۹ دهات افغانستان در مسیر انکشاف
۲۸۰ نگاهی به تحول خط وخطاطی در افغانستان
۲۸۱ په افغانستان کې دخط اوخطاطی بدلون ته کتنه
۲۸۲ رهنمای مسافرت در افغانستان (جلد ششم)
۲۸۳ پــه افغانســتان کــې د مســافرت او گرځندویــي لارښــود (شــپږم ټــوک)
۲۸۴ شیوه‌های ترویج و توسعۀ باغداری در افغانستان
۲۸۵ په افغانستان کې د بڼوالۍ د لارو چارو پراختیا
۲۸۶ آموزش و رهنمای کاریابی
۲۸۷ د کارموندنې زده کړې او لارښود
۲۸۸ نگاهی به ادبیات و فرهنگ در دورۀ غوریان
۲۸۹ د غوریانو په دوره کې ادبیاتو او فرهنگ ته یوه کتنه
۲۹۰ صحت نعمت و سرمایه است
۲۹۱ روغتیا نعمت او پانگه ده
۲۹۲ نگاهی به تاریخ و مدنیت قدیم غزنه
۲۹۳ دغزني تاریخ اولرغوني مدنیت ته یوه کتنه
۲۹۴ پــه افغانســتان کــې وگړنیــزې او عنعنــوي ټکنالــوژي تــه یــوه کتنــه
۲۹۵ نظری به تکنالوژی محلی و مردمی در افغانستان
۲۹۶ مسؤولیت مادران در دوران حمل و بعد از زایمان
۲۹۷ د امیــدوارۍ پــه دوره کــې او لــه زیــږون وروســته د میــندو مســوولیت
۲۹۸ نگاهی به ادبیات شفاهی درکاپیسا
۲۹۹ د کاپیسا شفاهي ادبیاتو ته یوه کتنه
۳۰۰ رهنمود های صحی برای نهاد های تعلیمی کشور
۳۰۱ د هیواد ښوونیزو مرکزونوته روغتیایي لارښوونې
۳۰۲ آموزش ورهنمای هنرنجاری (تخنیک چوب) در افغانستان
۳۰۳ په افغانستان کې د ترکاڼۍ دهنر ښودنه
۳۰۴ داستانهایی از سرگذشت پناهنده¬گان افغان
۳۰۵ د افغان مهاجرینو د ژوند  څوکیسې
۳۰٦ داستان نویسان معاصر افغانستان
۳۰۷ د افغانستان معاصر کیسه لیکونکی
۳۰۸ گزینه هایی از ضرب المثل های موضوعی افغانستان
۳۰۹ د افغانستان د متلونو موضوعي غورچاڼ
۳۱۰ چــوب وکاربــرد آن در نجــاری- (آمــوزش ورهنــمای هــنر نجــاری- جلــد دوم)
۳۱۱ لرگــی او پــه ترکاڼــې کــې یــې کارول   ( د تــرکاني دهــنر ښــودنه- دویــم ټــوک)
۳۱۲ زنان نامور افغانستان (جلد دوم)
۳۱۳ د ا فغانستان نومیالۍ میرمنې (دویم ټوک)
۳۱۴ دانستنی هایی از جامعۀ مدنی
۳۱۵ دمدني ټولنې په اړه پوهاوی
۳۱٦ سرکوه بلند
۳۱۷ زمین و آسمان
۳۱۸ ځمکه او اسمان
۳۱۹ کمک‌های اولیه
۳۲۰ لومړنۍ روغتیایي مرستې

۳۲۱ بازارهای سنتی و صنایع دستی افغانستان

۳۲۲ د افغانستان دودیز بازارونه او لاسي صنایع

۳۲۳ افغانستان وطن من

۳۲۴ زمونږ هیواد افغانستان

۳۲۵ پرورش حیوانات اهلی درافغانستان

۳۲۶ په افغانستان کې د اهلي څارویو روزنه

۳۲۷ نقـش زنـان در جنبـش هـای فکـری و آزادی خواهـی در افغانســتان

۳۲۸ د افغانســتان فکـري او آزادي بخښـونکو غورځنګونـو کـې د ښـځو ونـډه

۳۲۹ سیری در روانشناسی و روان درمانی

۳۳۰ اروا پوهنې او روحي درملنې ته کتنه

۳۳۱ داستان های آموزنده برای اطفال و نوجوانان

۳۳۲ ماشومانو او تنکیو ځوانانو ته روزنیزې کیسې

۳۳۳ آموزش و رهنمای مطالعه

۳۳۴ د مطالعې د زده کړې لارښود

۳۳۵ پرورش گل در خانه و گلخانه

۳۳۶ په کور او ګلتون کې د ګلانو روزنه

۳۳۷ اهمیت اقتصادی انار در افغانستان

۳۳۸ په افغانستان کې د انارو اقتصادي ارزښت

۳۳۹ کاغذپران رنگۀ من

۳۴۰ د ستورو کیسې

۳۴۱ آموزش رسامی برای کودکان

۳۴۲ ماشومانو ته د رسامۍ زده کړه

۳۴۳ دو داستانک خواندنی، به اطفال دوست داشتنی

۳۴۴ ګلالیو ماشومانو ته دوه په زړه پورې کیسې

۳۴۵ معارف افغانستان در گذر تاریخ

۳۴۶ د افغانستان پوهنه د تاریخ په بهیر کې

۳۴۷ مفاهیم دموکراسی و انتخابات

۳۴۸ د دموکراسي او ټولټاکنو مفهومونه

۳۴۹ صنعت قالین در افغانستان

۳۵۰ په افغانستان کې د غالیوصنعت

۳۵۱ اخلاق در رسانه¬های اجتماعی

۳۵۲ په ټولنیزو رسنیو کې اخلاق

۳۵۳ هنر مینیاتور در افغانستان

۳۵۴ په افغانستان کې د مینیاتورۍ هنر

۳۵۵ میراث فرهنگی افغانستان

۳۵۶ پشک دوپا با کلاه

۳۵۷ خوښ چې ماشومان وي

۳۵۸ معجزه زن بودن

۳۵۹ د ښځې توب معجزه

۳۶۰ خشم ییلاق

۳۶۱ د کلي قهر

۳۶۲ زنان فراموش شده

۳۶۳ هیرې شوې مېرمنې

۳۶۴ گودی پران هفت رنگ

۳۶۵ اووه رنګه پتنګ (کاغذ باد)

۳۶۶ اسانه ریاضي

۳٦۷ ریاضی آسان
۳٦۸ همدیگرپذیری
۳٦۹ یوبل منل/ یووالی
۳۷۰ غذاهای مفید
۳۷۱ گتور خواږه
۳۷۲ گنجشک ها و زمستان
۳۷۳ سوړ ژمی او مرغۍ
۳۷۴ اسد و موش خرما
۳۷۵ اسد او مږه
۳۷٦ کبۍ او مونوک
۳۷۷ سوله او طبیعت
۳۷۸ د پېریانو کلی
۳۷۹ معجزه موسی
۳۸۰ شهزاده و کتاب سرنوشت
۳۸۱ جلا در آنسوی راه شیری
۳۸۲ لاربنود او ستره پیبنه
۳۸۳ شهریار
۳۸۴ ویژه نامه
۳۸۵ تاثیر روانی جنگ بر کودکان
۳۸٦ پرماشومانو د جگړې رواني اغېزې
۳۸۷ موږ بېرته خپل کلي ته ځو
۳۸۸ ما دوباره به قریهٔ خود بر می گردیم
۳۸۹ ماجرای حرف گم شده
۳۹۰ رودک شجاع
۳۹۱ شهر مومی
۳۹۲ دوست ما کیست؟
۳۹۳ افسانهٔ دو قهرمان عادل
۳۹۴ د دوو اتلانو کیسې
۳۹۳ افسانهٔ دو قهرمان
۳۹۴ د دوو اتلانو کیسې
۳۹۵ افتو بارانک
۳۹٦ چگونه رسامی کنیم؟
۳۹۷ څنگه رسامي وکړو؟
۳۹۸ دختران خورشید
۳۹۹ د لمرينې لوڼې